# د لولکۍ قیصه

یوه وُنه وه. په هغې کښې ډېر شے پاڼې وې. په یوه پاڼه پورې وړوکې اګۍ نښتې وه . یوه ورځ اګۍ ماته شوه. د هغې نه یو وړوکے چینجے راووتۀ. د هغه چینجي نوم کېټر پِلر وۀ. هغه کچوڼے چینجے وړے شوے وۀ. هغه چې د کومې اګۍ نه راوتے وۀ د هغې پوستکے ئې وخوړۀ. هغه نور وږے شۀ. هغه دغه پاڼه وخوړه په کومې پورې چې اګۍ نښتې وۀ. هغۀ نور وږے شۀ، نور وږے شۀ، نور وږے. هغۀ په خوراک اخته شۀ، خوړل ئې خوړل ئې. اوس هغه وړوکے نه وۀ غټ شۀ او پېړ شۀ. هغه په خوړلو خوړلو ستړے شۀ. هغه د ځان نه چاپېره تېلۍ جوړه کړه. اوس هغه په تېلۍ کښې دننه وۀ. په تېلۍ کښې دننه شۀ. د چینجي شکل بدل شۀ. یوه ورځ تېلۍ وشلېده. د تېلۍ نه څه راوواتۀ ؟ یوه وړه شانې ښائسته زیړه لولکۍ. د لولکۍ وزرې لوندې وې. لولکۍ خپلې وزرې ورپولې، وچې ئې کړې. بیا والوته. او په وودې ګل کښیناسته. د ګل نه لاندې یو کډۍ وه. په کډۍ کښې یو جولاګے وۀ. جولاګي ووې ښکلې زیړې لولکۍ چې درباندې ترسکون ماشي وخورم. پرخه به درباندې وڅکم. وودې ګل لولکۍ ته ووې د جولاګے دا خبره مۀ منه وبۀ دې خوري. لولکۍ د هلته نه والوته.

هغه اوس یوې جاښې له لاړه. هلته زیړ ګلونه وو. هغې د زیړ ګل شربت څښل شروع کړه. لولکۍ یو اواز واورېدۀ. بنګ بنګ. زیړو ګلونو لولکۍ ته ووې. دا د سرې مچۍ اواز دے. هغۀ کۀ تا ووینې نو وبۀ دې خوري. زمونږ رنګ زیړ دے او ستا رنګ هم زیړ دے. تۀ زمونږ په جاښو کښې پټه شه. هغه به دې نۀ وینې. په دې کښې یوه شنه لولکۍ راغله. هغه هم د مچۍ نه پټېده. هغه د جاښ په شنو پاڼو کښې پټه شوه. د زیړې او شنې لولکۍ تر مېنځه ملګرتیا جوړه شوه. دواړو یوځاے د ګلونو رس څښل شروع کړه.